په لمانځه کې ځنې عامه غلطی (جدي پاملرنه)

۱- ځني کسان د تکبير تحريمه په مهال نيت وايي او بيا په هغه کې شک کوي او بيا دوهم ځل ، دريم ځل نيت وايي بلاخره تکبير تحريمه چې لوی اجر لري ورڅخه فوت شي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم حکم کړی دی چې تاسي د امام سره سم تکبير واياست :«لا تبادروا الامام اذا کبر فکبروا» (المسلم).

يعني : د امام څخه وړاندې والی مه کوئ کله چې هغه تکبير وايي تاسي هم تکبير ووایاست.

حال دا چې نيت د زړه اراده ده او د لمانځه لپاره په زړه کې نيت کول کافي دي مګر ځنو فقهاؤ په ژبه ويل د زړه د حضور لپاره مسحب بللی دی .

فنية الصلاة: هي إرادة الصلاة لله تعالى، والإرادة عمل القلب، فمحل النية :هو القلب: بأن يعلم بقلبه أي صلاة يصلي، ولا يشترط الذكر باللسان، وإنما يستحب إعانة للقلب الجمع بين نية القلب وتلفظ اللسان (البدائع/۱/۱۲۷ ومابعدها، الدر المختار:۱/۴۰۶).

۲- د تکبير تحريمه پر مهال لاسونو چې تر غوږنو پورته کيږي د ګوتو پراخه نيول او د لاسونو ينجې او ورغوي قبلې ته مخامخ کول سنت دي ، مګر ځني کسان ګوتې پيوسته او د لاسونو ورغوي د قبلې پر ځای خپلو عوږونو طرف ته برابروي .

۳- د قيام پر مهال د سجدې ځای ته کتل سنت دي مګر ځني کسان د سجدې د ځای څخه پرته يو اړخ او بل اړخ ته ګورې چې داسې کول مکروه د لمانځه حضور خرابوي او کچيرې د کتلو سره سينه وګرځوي لمونځ فاسديږي .

عايشه رضی الله عنه وايي : د رسول الله عليه وسلم څخه مې په لمانځه کې يوې بلې خوا کتلو په اړه پوښتنه وکړه ويې فرمايل: « هو اختلاس يختلسه الشيطان من صلاة العبد» (ابوداود ،نسائي).

يعني : دا يوه پټه غلا ده چې شيطان يې د بنده له لمانځه څخه وړي.

۴- ځني کسان پر خپل بدن ، جامه او ويښتانو لوبې کوي او لاس وربانديې وهي چې دا عمل اصلاً په لمانځه کې د خشوع او حضوع نه لرلو نښانه ده او لړ حرکت کولو سره لمونځ مکروه کيږي .

مګر په لمانځه کې زیات حرکت کول او ډیر ښوربدل چه کتونکی فکر وکړي دا سړی لمونځ نه کوي مثلاً د ځان ډیر ګرول یا د جامو برابرول یا په بدن اوجامو ډیر لاس وهل عمل کثیر بلل کیږي لمونځ یې فاسد ګرځي .

جاء في الموسوعة الفقهية:

اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى بُطْلانِ الصَّلاةِ بِالْعَمَلِ الْكَثِيرِ ، وَاخْتَلَفُوا فِي حَدِّهِ . فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّ الْعَمَلَ الْكَثِيرَ الَّذِي تَبْطُلُ الصَّلاةُ بِهِ هُوَ مَا لا يَشُكُّ النَّاظِرُ فِي فَاعِلِهِ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلاةِ.

۵- په لمانځه کې په ادب دربدل سنت دي :

په لمانځه کې د قیام پر مهال به د پښو تر مینځ متوسطه او معمولي فاصله چې نه ډیره کمه او نه ډیره زیاته وي موجوده وي ځکه چې په متوسطه فاصله کې خشوع او ادب دی د متوسطې فاصلې نه لږه یا زیاته فاصله مکروه د سنتو خلاف ده.

دغه متوسطه اندازه ائمه کرامو رحمه الله علیهم داسې بیان کړې ده :

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د پښو تر مینځ فاصله د څلورو ګوتو په اندازه .

د امام شافعي رحمه الله په نزد د یوې لوېشتي په اندازه .

د امام مالک رحمه الله په نزد متوسطه اندازه مستحب ده چې نه کمه وي او نه ډیره زیاته .

د ائمه کرامو د اقوالو څخه متوسطه اندازه څرګندیږي (موسوعة الفقهية) .

اللجنة الدائمة لیکي :

په قیام کې د پښو نښلول او همدارنګه د پښو تر مینځ زیاته فاصله پریښودل په سنتو او صحیح حدیث سره ثبوت نه لري ،بناءً لمونځ کوونکی به پښې نه نښلوي او نه به د پښو تر مینځ زیاته فاصله پریږدي بلکې معتدله فاصله به وي .

جاء في "فتاوى اللجنة الدائمة" (375/5) : " لم يرد في السنة المطهرة حديث صحيح صريح يفيد إلصاق القدمين في حال القيام في الصلاة أو في حال السجود وبناء على ذلك ، فالأصل أن المصلي لا يتكلف إلصاقاً ولا تفريجاً كثيراً بين رجليه بل يكون معتدلاً " انتهى

۶- په صحي شان رکوع کول:

رکوع د لمانځه رکن دی د رکوع لپاره داسې تیتېدل پکار دي چې د لاسونو په پراخه ګوتو به ګوندې نیسي سر به د شا سره یو شان وي او درې ځله به په کراره او سکون سره د رکوع تسبیح وایي .

ځنې کسان لېدل کیږي چې په ډیره بېړه رکوع کوي تسبیحات صحي نه لولي ، سر له شا سره سم نه وي ، داسې رکوع چې په هغه کې اطمنان نه وي (اندامونه کرار ونه نیسي) او حتی یو ځل هم صحي تسبیح ونه وایي داسې رکوع نه صحي کیږي لمونځ فاسد دی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم په رکوع کې د پوره سکون حکم کړی او سکون په ټولو ارکانو کې واجب دی : ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ... (متفق علیه) .

ژباړه : وروسته رکوع ته لاړ شه تر هغه چې بدن دې آرام او بې حرکته شي .

عائشه رضی الله عنها روایت کوي :«كان رسول الله صلّى الله عليه وسلم إذا ركع لم يرفع رأسه ولم يصوبه، ولكن بين ذلك» (متفق علیه).

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله رکوع کوله سر به یې (له شا سره) برابر ؤ نه پورته ؤ او نه ټیټ.

۷- قومه کول:

د رکوع څخه پورته کېدل (سمع الله لمن حمده – ربنا لک الحمد) ویل او په سکون او اطمان درېدلو ته قومه وایي .

قومه د متخرینو احنافو په نزد واجب او د امام یوسف په نزد فرض ده .

زیات کسان په صحي شان ، سکون او اطمنان سره قومه نه ادا کوي .

وَرُوِيَ وُجُوبُهَا،وَهُوَالْمُوَافِقُ لِلأَدِلَّةِ وَعَلَيْهِا لْكَمَالُ ابْنُ الْهُمَامِ وَمَنْ بَعْدَهُ مِنَا لْمُتَأَخِّرِينَ . وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ بِفَرْضِيَّةِ الْكُلِّ (برنامج الموسوعة الفقهية جزء ۲۷ ص ۷۹).

۸- سجده کول:

دوه ځله سجده کول په لمانځه کې فرض دي ،سجده په اوو اندامونو تر سره کیږي په سجده کې د پوزې نه لګول یا د دواړو پښو په پورته کولو سره سجده نه ادا کیږي.

د پښتو په يو ځل او څو ځله پورته کولو کې د فقهاؤ تر مينځ اختلاف شته دلته مو احتياطاً او د اصلاح لپاره د يو ځل پورته کولو قول را نقل کړی دی .

که دواړه پښې په ټوله سجده کې پورته کړ شي نو سجده نه ادا کيږي کله چه سجده ادا نشو نو لمونځ فاسد شو (فتاوي دارالعلوم ديوبند ج ۱ ص ۱۸۴).

داځکه چې سجده بايد په اوو اندامو ادا شي ، جناب نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

«أمرت أن أسجد على سبعة أعظم، على الجبهة – وأشار بيده على أنفه – واليدين، والركبتين، وأطراف القدمين، ولا نكفت الثياب والشعر » (بخاري او مسلم).

ژباړه: ما ته حکم راکړ شوی دی (د الله د طرف نه ماته حکم شوی دی) چه زه په اوو اندامونو باندې سجده وکړم يعنى سجده داسې وکړم چه دا اوه اندامونه پر ځمکه اېښودل شوی وي تندی ، د دواړه لاسونه ،دواړه ګونډې ،او د دواړو پښو کنارې او دا هم حکم دی چه مونږ به خپلې جامې او وېښتان نه راغونډوو.

زيات کسان په بيړه د ټونګې په شان سجده کوي چې هيڅ سکون او اطمان پکې نه وي پرته له سکون او اطمان څخه لمونځ نه صحي کيږي ځکه سکون واجب دی د واجبو په قصداً او عادتاً ترک کولو سره لمونځ فاسديږي .

۹- جلسه کول:

جلسه کول – يعنى د دوو سجدو په مابين کې په ښه شان کيناستل چه د بدن ټول اندامونه کرار شي او د پوره ناستې ګمان پرې وشي.

په دليل د دغه حديث شريف: « ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا» (متفق عليه).

يعنې :بيا سجده ادا کړه داسې چې بدن دې آرام او بې خځښته شي بيا دې سر له سجدې پورته کړه تر څو د کيناستلو په حال کې آرام او بې حرکته شي.

قومه او جلسه د متخرينو احنافو په نزد واجب ده مګر د امام يوسف امام مالک ، امام شافعي او امام احمد په نزد قومه ، جلسه او د لمانځه په ټولو ارکانو کې سکون او اطمنان فرض دی :

جاء فی موسوعة الفقهية :

الجلوس بين السّجدتين :

ذهب المالكيّة ، والشّافعيّة ، والحنابلة إلى أنّه ركن ، لما روت عائشة رضي الله تعالى عنها قالت : « كان النّبيّ صلى الله عليه وسلم إذا رفع رأسه من السّجدة لم يسجد حتّى يستوي جالساً » . وقال أبو يوسف من الحنفيّة بفرضيّته .

ځنی کسان د چرګ په شان ټونګې وهي چه لمونځ يې نه صحي کيږي ځکه که جلسه واجبه وبلو د واجبو په قصدي ترک سره لمونځ فاسديږي او که فرض يې وګڼو د فرض په ترک سره لمونځ نه صحي کيږي .

په تيزی او بې سکون لمونځ کول د منافق لمونځ دی د داسې لمونځ کولو څخه ځان ساتل پکار دي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «تلك صلاة المنافق، تلك صلاة المنافق، تلك صلاة المنافق، يرقب الشمس حتى إذا كانت بين قرني شيطان قام فنقر أربعاً لايذكر فيها إلا قليلا» (رواه مسلم).

يعني : دا د منافق لمونځ دی ، دا د منافق لمونځ دی ، دا د منافق لمونځ دی چه سړی ناست وي د لمر انتظار کوي تر څو ښه زيړ شي او د شيطان د دوه ښکرو په منځ کې راشي – نو پاڅي څلور ټونګې ووهي او په دې کې الله ډير کم ياد کړي .

خبرداری :

د لمانځه ټول ارکان په سکون او اطمنان سره ادا کول واجب او د امام يوسف حنفي امام مالک ، امام شافعی او امام احمد په نزد فرض دي ، ډير کسان لمونځ په سکون سره نه ادا کوي خصوصاً رکوع ، قومه ، سجده او جلسه صحي نه ادا کوي کچيرې د لمانځه ارکان په سکون سره ادا نشي لمونځ نه صحي کيږي په دليل د دغه حديث :

رسول الله صَلَّى اللَّهِ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يو سړی وليد چې په نا سم ډول او بدون له طمأنيه لمونځ کوي (په لمانځه کې حرکت کول او په بيړه د ارکانو ادا کول) امر يې ورته وکړ چې لمونځ دې له سره ادا کړه »إِرْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ «يعنى لمونځ له سره وګرځوه ځکه چې تا لمونځ ونه کړ هغې کس درې ځله لمونځ له سره وګرځولو او وروسته يې وويل يا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم په هغه ذات چې ته يې په حق را استولی يې تر دې غوره نشم ادا کولی نو ماته لمونځ راوښيې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل:

»إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ، ثُمّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلاتِكَ كُلِّهَا». بخاري (757)، مسلم(397)

ژباړه :کله چې د لمانځه د پاره اراده کوئ کامل اودس وکړه ، وروسته دې مخ پر قبله کړه او تکبیر ووایه ،وروسه د قرآن څخه هغه ووایه چې درته آسانه وي ،وروسته رکوع ته لاړ شه تر هغه چې بدن دې آرام او بې حرکته شي ، بیا له رکوع پورته شه په سم او آرام ډول دریدلو سره ، بیا سجده ادا کړه داسې چې بدن دې آرام او بې خځښته شي بیا دې سر له سجدې پورته کړه تر څو د کیناستلو په حال کې آرام او بې حرکته شي وروسته همدا عمل په ټول لمانځه کې کوه

۱۰ – د قعدې پر مهال سینې ته کتل او د شهادت د کوتې پورته کولو پر مهال د شهادت کوتې ته کتل پکار دي مګر ځنې کسان یوې او بلې خوا ته ګوري .

کله چې مقتدي تشهد ووایي او امام سلام ګرځوي متقدي به د امام سره سلام ګرځوي مګر ډیر کسان دلیل کیږي چې د امام سره سلام نه ګرځوي ، درد او دعا وایي او بیا سلام ګرځوي دلته د سنت پر ځای د واجبو ترک راځي .

۱۱- د سلام ګرځولو پر مهال خپل ښي او کیڼي اوږې ته کتل سنت دي مګر ځنې کسان د اوږو پر ځای یوې او بلې خوا ته داسې سلام ګرځول چې سر له ګرځولو سره سینه هم ګرځوي .

و ما توفیقي الا بالله علیه توکلت والیه انیب

الله تعالی اول زما لمونځ اصلاح کړي بیا د ټولو مسلمانانو د چا چې لمونځ سم شو د هغه دنیا او آخرت سم شول

د مسلمانانو ورونو او خویندو څخه مې هیله دا ده چې دغه وړوکې رساله نورو مسلمانانو ته هم ورسوي

خپرونه : آن لاین اسلامي لاربنود

www.dawat610.com